# د ګل ماشومانو دپاره
# د امن یو تاریخي لوبه

پیر ګوهر شاعر امن

یو چڼ چڼه- بل چڼ چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

ویې چڼ چڼې ته چڼ چڼ، زۀ چې ورشو تر مابڼ
د سوما د ګلو لو دے، پاس د سکر یې په ګل بڼ
پېغلو جونو او زلموټو، اچولے دے اتڼ
د تمبلونو یو تهنا ده
هر خوا ټن ټن، ټن ټن، ټن

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

چارچاپېره نن په غرونو، چا بل کړي دي باکڼ
ده سپوږمۍ د څوارلسمې، خوش بویانې د چندڼ
دي سندرې ګڼاګانې، وي به جوړ ټوله شپه هڼ
شي به هېر یې درنه ښکلې، رڼاګانې د جبڼ

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

یو هستي وه پېدا شوې، په دې سیمه دې انګڼ
چې خپل نوم یې ؤ سدهارته، د زوي نوم یې ؤ راوڼ
شپه په شپه د کوره ووت، یو راجه شولو چنګڼ
د سودم په سر ګلۍ وه، نه چترؤ نۀ پګڼ

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

څلوېښت ورځې شپې ګڼا وه، پکښې خلق د هر بڼ
د ایلم او د دوه سرو، ورسره ؤ پوخ سنګڼ
کۀ د پشکلاوتي وو، د باګرام کۀ د اسبڼ
دغه شپه به هېره نۀ کړي، کۀ تارڼ وي کۀ رنګڼ

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخ چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

وۀ بدها یې مېلمه کړی، ساکاګان په یو ځای ګڼ
پټ یې مار پرې هم ورپېښود، مار ولاړ نۀ کوو سڼ
چا پخکړي خرېړي وو، چا لاوڼ چا باتینګڼ
شوې حلوه کښې اوبۀ زیاتې، تربڼه جوړ شولو لیتڼ

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

فاخته رنګو شنو کمترو، کول خپلو کښې بڼ بڼ
د ادم حوا راوړي، ټول یو ورونه یو خورلڼ
واړه څانکې د یو اونې، څوک کرکنه څوک کرکڼ
یا د تخت د پاسه ناست وي، یا شلېدلے کټ ترنګڼ

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

دا بیړوچ پېرسي بادام، ملندرې او برینګڼ
سوات او دیر کۀ باجوړ دی، د یو سیمې استوګڼ
څوک سالار دے کۀ منصور دے، کۀ یوسف دے کۀ مندڼ
مار ولاړ په کړه مار شو، په یو پښه لکه بامبڼ

یو چن چڼه، بل چن چڼ
هر وخت چڼ چڼ، چڼ چڼ، چڼ

## روحاب ملک

خبرې نوي دې زړې به نهٔ وي
خو لړې سپينې دې خوږې به نهٔ وي

څوک خو به داد د زړهٔ د خلاصه راکړي
د چا د پاره ډېرې ښې به نهٔ وي

کهٔ مې پښتو له بل څهٔ رنګ ورکوي
نو هغه سترګې پښتنې به نهٔ وي

ازغي د لارې کهٔ ګلونه مې شي
وخت به وي تېر بيا دا لمحې به نهٔ وي

مور ته ارمان لوګے کوومه څمه
هر څهٔ به وي خو دا غمے به نهٔ وي

مونږ يې په وخت په قدر نهٔ پوهېږو
چې کله پوه شو دا هيرې به نهٔ وي

اخر به بلې کړو د امن شمعې
عمر له دا تورې تيارې به نهٔ وي

کهٔ مو سپرلي په وطن بېرته راغلل
د شهيدانو وينې توے به نهٔ وي

چې پرې الوت د خيال مرغان ونهٔ کړي
دا سردرې خو سر درې به نهٔ وي

چې سپين پټکي پکښې شمله نهٔ ښکاري
په هغه کلي کښې حجرې به نهٔ وي

چې د مېلمه په راتګ نهٔ تودېږي
دے انغرے خو انغرے به نهٔ وي

پکښې رنګونه د پښتو کهٔ نهٔ وي
نو دا مصرعې زما مصرعې په نهٔ وي

چې د عرش ستن يې په ختو نهٔ خوځي
بيا خو روحاب دا اسوېلے به نهٔ وي

## نورين امان شمع

چې په ژړا شوم هر انسان راباندې ځان غلے کړو
نور خلق څهٔ کوم جانان راباندې ځان غلے کړو

نهٔ په سلګو نهٔ اسوېلو نهٔ خاموشۍ مې پوه شو
وخت ستمګر په کوم کوم شان راباندې ځان غلے کړو

کهٔ مو د مينې تخم وکرهٔ د زړهٔ په وينو
سپرلي مخ واړوو خزان راباندې ځان غلے کړو

جانانه ستا مينه ستا ياد مې سرمايه ده د ژوند
ګڼي باقي خو هر ارمان راباندې ځان غلے کړو

په دې خفه نهٔ يم چې نن زما تپوس نهٔ کوي
په دې خفه يم چې خپل ځان راباندې ځان غلے کړو

څهٔ ژړغوني زندګي شوله په دغه مقام
چې مې جانان په کوم ګومان راباندې ځان غلے کړو

دا چې ستا مينه وي په هره ساه دشمعې سره
هېڅ پروا نشته کهٔ جهان راباندې ځان غلے کړو

# پښتونولي

امیر رزاق ساحل

پښتو پښتونولي د يو کوټلي نظام نوم دے
پښتو د سړيتوب د يو سپېڅلي مقام نوم دے
پښتود يو تهذيب د سنجولي انجام نوم دے
پښتو د يو تاريخ د تمدن او مرام نوم دے
پښتو د مشرۍ د تقدس احترام نوم دے
پښتو د لوئۍ کور دے د نازونو د بام نوم دے
پښتو اشرغوبل ډله پره ده يو عام نوم دے
پښتو استقامت دے د يو اټل قيام نوم دے
پښتو په ښه او بد کښې د تميز او د پام نوم دے
پښتو د غېرت خلاف د عمر د لام نوم دے
پښتو د سر مستۍ د يو کاواک انتقام نوم دے
پښتو د دود دستور د مجموعي انتظام نوم دے

پښتو رسول سرته زړۀ چاؤدون دے او ناکام دے
پښتو بې ځايه جهل دے نيم کفر نيم اسلام دے

د هسکو هسکو غرونو سره سر وهل پښتو ده
د نوک جواب په سوک باندې مودام کول پښتو ده
د ورور عزيز تربور سره سيالي کول پښتو ده
خو دا هم ده چې ورور عزيز تربور ګټل پښتو ده
په خپل کالۀ دشمن بخښل جرګه منل پښتو ده
د هر سړي کار نۀ دے د لمبو ګوتل پښتو ده
پښتو لستونړے نۀ دے د يارۍ منګول پښتو ده
د يار کوځې له خپل سر په تلي کښې وړل پښتو ده

رښتيا رښتيا ساده پاده شړل بړل پښتو ده
د ژوند سوچه روزګا د کړکيچونو حل پښتو ده
د ژوند ټولې سندرې په يو تار وئيل پښتو ده
پښتو لوستۀ پښتو ليکل پښتو وئيل پښتو ده

پښتو د زندګۍ د ضابطو پوره قانون دے
زما په خيال هغه سړے کامل دے چې پښتون دے

پښتو د ارادې يوه سنګينه فېصله ده
پښتون د تکلونو يولويه پرګنه ده
پښتو د سړيتوب يوه ښې داغه آئينه ده
پښتون له خدائے ورکړے د درياب غوندې سينه ده
پښتو د فن او علم يوه ډکه خزانه ده
پښتون چې پرې خاني کوي پښتو هغه نامه ده
پښتو يوه جامه يوه حيا يوه پرده ده
پښتون په حقيقت کښې د پښتو ټکي معنا ده
پښتو لکه د نورو ژبو صرف ژبه نۀ ده
پښتون له يې ورکړے يو قامت او نمونه ده
پښتو په خپل پېغور کښې هم د درس يو آئينه ده
پښتون له دا پښتو يو درناوے جګه شمله ده

خو ډېرې بلاګانې د دې خوار په وجود پايي
د دې ژبې طبيب د خپل بيمار په وجود پايي